# دپیژندني کنترول او د اوسیدو د قانوني وضعیت تصدیق

پولیس حق نه لري چی په لارو او کوڅوکي ده ټولو خلکو د پیژندني ته کنترول وکړي

## ده پیژندلی کنترول په ځینو موقعیتونو کي محدود دي

- د جرم د ترسره کولو شک
- په یوه سیمه کي او د یوي ځانګړي مودي لپاره د خارنوال په حکم
- په سرحدي سیمو کي (تر 02 کیلومتره پورې)، سټیشنونه، هوایي ډګرونه، اورګاډي، بندرونه، لویې لارې، او نور
- د بهرنیانو لپاره (د استوګني کنټرول): که بهرنی نښه وښیي چې سړی بهرنی دی لکه ژبه، بهرنی ورځپاڼه لوستل، د موټر بهرنی پلیټ نمبر، او نور)

## کوم اسناد وړاندي کول

### د بهرنی لپاره

د استوګني اجازه، د استوګني د اجازي غوښتنلیک

کولای شو خپل هویت د هر سند له لاري ثابت کړو چي نوم، تخلص او عکس ولري، لکه د مثال په توګه د پاس ناویګو.

⚠ **که چیری په ترانسپورت کي د کنټرول په محال بی تیکټ ونیول شي تاسو باید ترهغه پوري پاتی شی چی پولیس راشي. که تاسو دا نه وکری نو تاسو دوه میاشتی بند یا 7500 یورو جریمه کیدی شي.**

✅ د خپل هویت اسناد نه ښودل جرم نه دی

❌ د جعلي هویت یا جعلي اسنادو ورکول جرم دی

## که د پولیس لخوا نیول شی نو څه باید ووکي

- مقاومت نکول، آرام او مودب پاتي کیدل
- دپولیس لخوا د نیولو وخت اوځای یاد کړئ: لکه د کوڅه، شمیره، پلورنځي، کافی، میټرو سټیشن او داسې نور
- د پولیسو ډول وپیژنې لکه ملي پولیس، جندرمری، د امنیت پولیس، او د نظم عامه پولیس. که امکان ولري د پولیسو ۷ عددونه که د پولیسو په سینه کي دی یاد کړئ.
- که پولیس بد چلندکوي، د دربدو غوښتنه وکړئ او ووایئ: "تاسو ما ځوروي" څو څله په لوړ غږ، ترڅو شاوخوا خلک واوري
- فلم اخیستل مجاز دی مګر شاهدان هم د فلم کولو غوښتنه کولی شي
- د خپل تلیفون پاسورډ مه ورکوئ

⚠ **پولیس حق نه لري:**

**- د فلم اخیستلو څخه دد کول**

**- وهل کول**

**-تاوتریخوالی او سپکاوی کول**

- که چیرې یو بالغ نشي کولی خپل هویت ثابت کړي، هغه ممکن د خپل هویت د معلومولو لپاره تر څلورو ساعتونو پورې توقیف شي

د توقیف پر مهال، که چیرې پولیس ونه توانیږي چې د شخص هویت څرګند کړي، عکسونه او د ګوتو نښان اخیستل کیدی شي.

- د توقیف په وخت کې، تاسو حق لرئ چې یو خپلوانوته تلیفون وکړئ
- ده نیول کیدو پای کې، پولیس باید د توقیف راپور وړاندې کړي. دا اړینه نده چې دا راپور لاسلیک کړي.